UNAMA

د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره

د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

**د افغان ملکی وګړو لپاره د مې میاشت تر ټولو خونړۍ وه**

کابل، د مې د میاشتې ۱۱ نیټه، کال ۲۰۱۱: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) په وینا د ۲۰۱۱ کال د مې میاشت د ۲۰۰۷ کال راهیسې د ملکي کسانو لپاره تر ټولو خونړۍ میاشت وه. یوناما د مې په میاشت کې د شخړې په تړاو د ملکي تلفاتو نږدې ۳۶۸ وژنې او د ملکی کسانو ۵۹۳ د ټپي کیدلو پیښې ثبت کړې دي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشر اغلې جورجیټ ګنیون وویل: "د ۲۰۰۷ راهیسې چې کله یوناما د ملکي تلفاتو په ثبت کولو پیل کړی د نورو میاشتو په پرتله د سږکال مې میاشت کې تر ټولو زیات کسان وژل شوي دي."

"موږ ډیر اندیښمن یو چې د هوا د ګرمیدو سره به د ملکی کسانو د تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی راشي. د شخړې ښکیلې خواوې باید همدا اوس د ملکي کسانو د ساتنې هڅې پیاوړې کړي."

د دولت ضد عناصرو ته د ملکي تلفاتو ۳۰۱ وژنې منسوب کیږي (د مې په میاشت کې د ټولو ملکي تلفاتو ۸۲ سلنه).

حکومت پلوه ځواکونو ته ۴۵ ملکی وژنې منسوب کیږي (د مې په میاشت کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه).

دوه ویشت مړینې یا ۶ سلنه د کال ۲۰۱۱ د مې په میاشت کی هیڅ یو اړخ ته منسوب شوې نه دی ځکه چی د دوې ډیری سلنه د جګړې په منځ کی نښتې او له منځه تللې دي.

تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په همدې ډول افغانان وژني او ژوبلوي چې ډیری یې ملکی کسان دي، د مې په میاشت کې ۱۱۹ کسان وژل شوي او ۲۷۴ تنه نور ژوبل شوي (د هغه ملکی وګړو د تلفاتو ۴۰ سلنه چی د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي) دغه توکي په مې کې ۴۱ سلنه د ملکی تلفاتو سبب ګرځیدلی. په افغانستان کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ډیری هغه توکي دي چې د فشار په ذریعه چوي او په ماهیت کې په بې تشخیص ډول زیان اړونکي دي. دغه توکي ډیر ځله د لویو لارو په غاړو کې او د سوداګری د ګڼې ګوڼې په ځایونو کېښودل کیږي چې ډیر ملکي تلفات اړوي. د دولت ضد عناصرو له خوا د دغو توکو کارول د بشرې د نړیوال قانون ضد کار دی.

د مې په میاشت کې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د مخامخ جګړو په ترڅ کې ۶ تنه ملکي کسان وژل شوي. د ملکي تلفاتو شمیر چې په مخامخ جګړو کې وژل شوي د طالبانو له خوا د پسرلی له بریدونو راهیسې ډیر شوي. د مې په میاشت کې د هوایي بریدونو له امله ۳ سلنه ملکی تلفات اووښتي دي.

یوناما د ملکي تلفاتو په اړه خپل شپږ میاشتنی راپور تیاروي چې د جولای په لومړیو ورځو کې به خپور شي او د ۲۰۱۱ د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې به د ملکي کسانو د وژلو مسوولیت او اندازه له اسنادو سره په ډاګه کړي. څرنګه چې له ۲۰۰۷ راهیسې د سږ کال د مې میاشت د افغان ملکی تلفاتو د شمیر په اړه تر ټولو زیاته وژونکي موده وه، یوناما له مخه دا بیانیه خپروي او د ملکی کسانو د ساتنې غوښتنه کوي.

---

**د ایډیټورانو لپاره یادښت**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ستراتیژیکو معلوماتو او د ویاندوي له څانګې سره اړیکه ټینګه کړئ.
د میډیا د اړیکې ټول معلومات پر دغې ویب پاڼې د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org
همدارنګه کولای شي چې له نوموړې ویب پاڼې څخه په لیدني سره د یوناما خبرونه تر لاسه کړئ

**د یوناما ویاندویان**


نیلاب مبارز: ۵۰۳ ۶۶۲ ۷۹۷ (۰) ۹۳+
نظیف الله سالارزی: ۵۰۴ ۶۶۲ ۷۹۷ (۰) ۹۳+
ډان مکنارتون: ۳۵۸ ۲۵۰ ۷۰۰ (۰) ۹۳+


---